علم او فن- علمي څېړنيزه مجله

# په افغانستان کې د زعفرانو زنځيري ارزښت فرصتونه او ننګونې: روايتي تحليل

میرویس لودین[۱*]، ایازخان ناصری[۱]، عبدالباقی احمدزی
[۱] د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګه، کرنې پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل افغانستان

**لنډيز**

په افغانستان کې کرنه د ملي اقتصاد بنسټيزه برخه ګڼل کېږي او د هېواد د عوايدو يوه مهمه سرچينه ده. په وروستيو کلونو کې د طبي بوټو توليد؛ په ځانګړي ډول د زعفرانو کرنه، د اقتصادي ارزښت، صادراتي وړتيا او د کروندګرو د معيشت د پياوړتيا له امله ډېره پاملرنه ترلاسه کړې ده. که څه هم دا محصول د افغانستان په څو ولايتونو کې کرل کېږي، خو د توليد عمده برخه يې د هېواد له لوېديځ، په ځانګړي ډول له هرات ولايت څخه ترلاسه کېږي. دا مقاله د موجودو څېړنو د روايتي مرور له لارې چې له معتبرو علمي سرچينو لکه ريسرچ ګيت، ګوګل سکالر او سکوپس څخه ترلاسه شوي دي؛ د افغانستان د زعفرانو د توليد وضعيت، اقتصادي ارزښت او د ارزښت ځنځير اړوند شته فرصتونه او ننګونې تحليل کوي. د دغې مقالې موندنې ښيي چې زعفران په افغانستان، ځانګړي ډول په هرات ولايت کې د لوړ اقتصادي ارزښت، کمو اوبو اړتيا او مناسب اقليمي شرايطو له امله يو ستراتيژيک کرنيز محصول دی. مطالعات څرګندوي چې دا نبات د بزګرانو د عايد لوړولو او کارموندنې د پراختيا ظرفيت لري؛ خو مالي محدوديتونه، تخنيکي اړتياوې او نهادي کمزورۍ يې پراختيا محدوده کړې ده. همدارنګه د ارزښت ځنځير پياوړتيا، په ځانګړي ډول د پروسس، معياري بسته‌بندۍ او بازارموندنې په برخو کې، د افغانستان زعفرانو د نړيوال سيالي وړتيا او صادراتي ظرفيت د لوړولو لپاره حياتي بلل شوې ده.

**کليدی کلیمات**: زعفران، زنځيري ارزښت، بسته بندي، پروسس، بازار موندنه، اقتصاد وده

# Opportunities and Challenges of the Saffron Value Chain in Afghanistan: A Narrative Analysis

Mirwais Lodin[1]*, Ayaz Khan Naseri[1], Abdul Baqi Ahmadzai[1]
[1]Department of Agricultural Economics and Extension, Agriculture Faculty, Kabul University, Kabul Afghanistan
[*]Corresponding Author Emial: MirwaisLodinAEEx@ku.edu.af

## Abstract

Agriculture is considered a fundamental pillar of the national economy in Afghanistan and a major source of income for the country. In recent years, the production of medicinal plants—particularly saffron cultivation—has received growing attention due to its high economic value, export potential, and positive impact on improving farmers' livelihoods. Although saffron is cultivated in several provinces of Afghanistan, the majority of production originates from the western region, especially Herat province. This study employs a narrative review of existing literature obtained from reputable scientific sources, including Research Gate, Google Scholar, and Scopus, to analyze the current status of saffron production in Afghanistan, its economic significance, and the opportunities and challenges associated with its value chain. The findings of this study indicate that saffron is a strategic agricultural crop in Afghanistan—particularly in Herat province—due to its high economic value, low water requirements, and favorable agro-climatic conditions. The reviewed studies highlight the strong potential of saffron cultivation to increase farmers' incomes and generate employment opportunities. However, its expansion is constrained by financial limitations, technical requirements, and institutional weaknesses. Furthermore, strengthening the saffron value chain—particularly in processing, standardized packaging, and marketing—is considered vital for enhancing the international competitiveness and export capacity of Afghan saffron.

**Keywords:** Saffron; Value Chain; Processing; Packaging; Marketing; Economic Growth

**سريزه**

کرنه د افغانستان د اقتصاد له مهمو او بنسټيزو سکتورونو څخه شمېرل کېږي؛ څکه چې د هېواد شاوخوا ۸۰ سلنه نفوس په مستقيم يا غيرمستقيم ډول په کرنيزو فعاليتونو بوخت دي، همدې پراخ مشارکت کرنه د خلکو د معيشت، د خوړو د امنيت او د ملي اقتصاد د ثبات لپاره يو حياتي سکتور ګرځولی دی. په تېرو څو لسيزو کې د خدمتونو سکتور په چټکۍ وده کړې او په ملي اقتصاد کې يې ونډه د پام وړ زياته شوې ده. د احصايې او معلوماتو ملي ادارې د ۲۰۲۰ م کال د راپور له مخې، د ناخالص کورني توليداتو په چوکاټ کې د خدمتونو سکتور ونډه شاوخوا ٪۵۶ ته رسېږي. په مقابل کې د صنعت سکتور پرمختګ محدود پاتې شوی، چې له امله يې افغانستان د خپلو صادراتو لويه برخه د کرنيزو محصولاتو څخه ترلاسه کوي. دغه راپور ښيي چې د هېواد ټول صادرات شاوخوا ٪۹۰ کرنيز او مالداری محصولات دي، داسې حال کې چې پاتې ٪۱۰ د قيمتي منرالونو، غالۍ او نورو محصولاتو څخه جوړ دي(NISA, 2021).

افغانستان د بېلابېلو اقليمي زونونو، جغرافيايي تنوع او طبيعي سرچينو له امله د کرنيزو محصولاتو د توليد لپاره د پام وړ ظرفيت لري. د اقليم د بدلون د نړيوال اغېز او په وچو سيمو کې د اوبو د بحران له امله؛ دا اړينه ده داسې کښتونو ته لارښوونه وشي چې لږې اوبه مصرفوي او د اقليم سره سازګار وي(Ali et al., 2024).

په همدې چوکاټ کې، د کرنې د فعاليتونو د ښه درک او تحليل لپاره د زنځيري ارزښت (Value Chain) مفهوم ځانګړی اهميت لري. زنځيري ارزښت د هغو ټولو عملياتو مجموعه ده چې د فارم د اړتيا وړ موادو له توليد او وېش څخه نيولې، په فارم کې د توليد تر ترسره کېدو او بيا د کرنيزو محصولاتو د ذخيرې، پروسس او توزيع پورې غځېږي(Hernandez et al., 2017). دا ليد لوری کرنه يوازې د توليد په کچه نه، بلکې د متقابلو او پرله‌پسې فعاليتونو د يوې شبکې په توګه ارزوي چې هر پړاو په کې د ارزښت زياتولو لامل کېږي.

په پراخ تعريف کې زنځيري ارزښت د محصول يا خدمت له ابتدايي مفکورې څخه تر توليدي مرحلو، فزيکي بدلونونو، د توليدي خدمتونو تر وړاندې کولو، وروستي مصرفوونکي ته د محصول تر رسولو او د کارونې تر پای پورې ټول فعاليتونه رانغاړي. په دې بهير کې بېلابېل لوبغاړي ونډه لري، لکه د توليدي عواملو(د تخمونو، کيمياوي سرو، موادو او نور) عرضه کوونکي، بزګران، سوداګر، پروسس کوونکي، ترانسپورټ ، عمده پلورونکي، پرچون پلورونکي او وروستي مصرفونکي، چې د دوی ترمنځ اغېزمن تعامل د زنځير د بريا لپاره مهم بلل کېږي(Hellin and Meijer, 2006).

د زنځيري ارزښت پراختيا په وروستيو کلونو کې د پراختيايي تګلارو يوه مهمه برخه ګرځېدلې ده، څکه چې دا لاره د اقتصادي ودې د هڅونې، د کرنيزو سکتورونو د سيالۍ د زياتوالي او د بازارموندنې د موثريت د لوړولو لپاره اغېزمنه ګڼل کېږي-Humphrey and Navas). (Alemán, 2010; Staritz, 2012په همدې لړ کې د افغانستان يو شمېر کرنيز محصولات په ځانګړي ډول زعفران د لوړ اقتصادي ارزښت له امله ځانګړې پاملرنه ځان ته اړولې ده.

زعفران تر ټولو قيمتي او لوړ ارزښت لرونکې مصالحه ده چې د خپل ځانګړي رنګ، نازک خوند او معطرو ځانګړتياوو له امله په نړيوالو بازارونو کې ځانګړی ځای لري. د زعفران نبات ستايګما او کورم دواړه د پخلي، عطرو او درملو په صنعتونو کې کارول کېږي. دا نبات د پياز په څېر کورم لري چې نږدې درې سانتي متره قطر او شاوخوا اته ګرامه وزن لري. د زعفرانو ګلان د ميزان مياشتې له لومړيو اونيو څخه عقرب مياشتې تر وروستۍ اونۍ پورې راټولېږي او د لنډ عمر له امله بايد د سهار له لمر ختو مخکې ټول شي؛ ترڅو کيفيت يې لوړ وساتل شي (Menia et al., 2018).

په افغانستان کې د زعفرانو کرنه د ۱۹۷۹م کال وروسته پيل شوه؛ کله چې د شوروي يرغل پر مهال يو شمېر افغانان ايران او عراق ته کډه شول او د راستنېدو پر مهال يې د زعفرانو کورمونه هېواد ته راوړل. که څه هم په لومړيو پړاوونو کې بزګران د کرنيزو تخنيکونو له محدودې پوهې سره مخ وو، خو د وخت په تېرېدو د کرنې وزارت او نادولتي بنسټونو د ملاتړ له امله د زعفرانو توليد په تدريجي ډول پراختيا وموندله (Ajaz, 2012; Faiz and Sultani, 2016).

د خپل لوړ اقتصادي ارزښت له امله زعفران په افغانستان کې د "سور زر (Red Gold) "په نوم هم يادېږي. دا نبات په نړيواله کچه د افغانستان ترڅنګ په څو هېوادونو کې توليدېږي؛ لکه يونان، ترکيه، هسپانيه، ايران، هند او مراکش، خو له ۹۰ سلنې څخه زيات نړيوال توليد په ايران کې متمرکز دی (Moradi and Turhan, 2017). افغانستان په **۲۰۱۹** م کال کې د نړۍ د زعفرانو څلورم ستر توليدونکی و او په همدې کال کې يې شاوخوا شپږ ټنه زعفران د لس ميليون امريکايي ډالرو په ارزښت صادر کړل (ASYB, 2021).

زعفران يو لرغونی کرنيز نبات دی چې اوږد تاريخي شاليد لري. د څېړنو له مخې، دا نبات پخوا په يونان، ترکيه او ايران کې کرل کېده او وروسته د هند شمالي سيمو او چين ته هم خپور شو (Katawazy, 2013). د زعفرانو ارزښت زنځير د تخم يا کورم له برابرولو څخه تر کرنې، ټولونې، پروسس، بسته بندی، توزيع او بازارموندنې پورې ټول پړاوونه رانغاړي. هر پړاو د محصول د اقتصادي ارزښت په زياتولو کې ځانګړی رول لري. سره له دې چې افغان زعفران د لوړ کيفيت او نړيوال شهرت له پلوه قوي موقف لري، خو باکيفيته توليدي عواملو ته کم لاسرسی، د بزګرو د مهارتونو محدوديت، د پروسس ټيټه کچه او د بازارموندنې نيمګړتياوې د دې زنځير د بشپړ ظرفيت د تحقق مخه نيسي. په مقابل کې د نړيوال بازار د غوښتنې زياتوالی يو مهم فرصت ګڼل کېږي. له همدې امله د زعفرانو د ارزښت زنځير مروري او تحليلي څېړنه کولی شي د توليد، پروسس او بازارموندنې ترمنځ شته تشې روښانه کړي او د کرنيز سکتور د پايداره ودې لپاره علمي بنسټ برابر کړي.

## کړنلاره

دا څېړنه يوه روايتي بياکتنې مطالعه ده، چې اړين معلومات د بېلابېلو څېړنيزو مقالو او معتبرو علمي سرچينو ( ,Google scholar ,Research gate او Scopes) څخه راټول شوي دي. پخواني ادبيات د (د زعفرانو د زنځير ارزښت، د زعفرانو توليد، د زعفرانو پروسس، د زعفرانو بازار موندنه او د زعفرانو د انتقال مصارف) **کليدي کلمو** په کارولو سره لټول شوي او راټول شوي دي.

## موندنې

### د زعفرانو توليد

د څېړنې پايلې څرګندوي چې په افغانستان کې بزګران د زعفرانو د توليد ترويج هغې پاليسي سره ليوالتيا لري او د منلو چانس يې زياتيږي چې د توليدي عواملو په ځانګړې ډول ماشينري خدمتونه په کې شامل وي، ځکه په افغانستان کې ډېری بزګران کوچني بزګران دي، اقتصادي ستونزې لري او د زعفرانو د توليد لپاره د اړتيا وړ ګران بيه ماشينري نه شي پيرلای. د پور د مودې زياتوالی د بزګرانو د پاليسۍ د منلو احتمال لوړوي، چې دا د هغوی د مالي **محدوديتونو** ښکارندويي کوي. د زعفرانو ډېری کروندګر رسمي مالي سرچينو ته لاسرسی نه لري او اړ دي چې له کورنيو اړيکو يا غيررسمي پور ورکوونکو څخه د لوړو سودونو په بدل کې پورونه واخلي. همدارنګه د زعفرانو د ترويجي خدمتونو د مرکز موقعيت د بزګرانو په پرېکړه کې مهم رول لري، ځکه دوی هغه مرکزونه غوره ګڼي چې په خپله ولسوالۍ کې وي او آسانه لاسرسی ورته ولري.سربېره پر دې بزګران د نړيوالو غير دولتي مؤسسو له لوري د پروګرامونو پلي کېدل غوره بولي، ځکه له دغو مؤسسو سره يې پخوا مثبتې تجربې لرلې دي. پايلې دا هم ښيي چې ورانديز شوې پاليسۍ د ځانګړتياوو له توپير پرته د زعفرانو د بزګرانو له پراخ ملاتړ څخه برخمنې دي. له همدې امله اغېزمنې ترويجي پاليسۍ بايد د ماشينرۍ د خدمتونو برابرول، اوږدمهاله مالي اسانتياوې، د زعفرانو د ترويجي خدمتونو نږدې مرکزونه او د باور وړ نړيوالو مؤسسو له خوا د **خدمتونو** وړاندې کول په کې شامل وي (Azimy et al., 2020). د مطالعاتو پايلې ښيي چې د زعفرانو کښت په هرات ولايت کې د بزګرانو د عايد د لوړولو لپاره يوه ښه سرچينه بلل کيږي. سره له دې چې د ځمکې او اوبو محدوديتونه د دغه محصول د کښت او توليد په برخه کې موجود دي؛ د بېلابېلو اقتصادي قشرونو بزګرانو د زعفرانو کرنې ته مخه کړې ده، ځکه زعفران د نورو نباتاتو په پرتله لږ اوبو ته اړتيا لري. زعفران د کمو اوبو له امله ګټور محصول بلل کېږي، خو د پانګې بېرته ستنېدل يې وخت ته اړتيا لري. دغه راز د زعفرانو د عضوي توليد د پراختيا لپاره د تخنيکي روزنو اړتيا اساسي بلل کېږي(Wyeth and Gohar., 2006).

د هرات ولایت د زعفرانو تولید د افغانستان لپاره ستراتیژیک اقتصادي ارزښت لري او د کورني تولید او صادراتو له اړخه د سیالۍ ښه وړتیا لري. د عامه سکتور ملاتړ د **تولیدوونکو** په پیاوړتیا کې اغېزناک بلل شوی، چې له امله یې افغانستان زعفرانو په نړیوال بازار کې په یوه پېژندل شوې سرچینې بدل شوی دی. د طبیعي امکاناتو مناسب مدیریت او د پانګونې هڅونه کولای شي د زعفرانو له ارزښتمن زنځیر څخه اقتصادي ګټې لا زیاتې کړي.

همدارنګه د زعفرانو پراختیا د کارموندنې د زیاتوالي او د ناقانونه اقتصادي فعالیتونو د بدیل په توګه د سیمه ایزو ټولنو د ثبات ملاتړ کوي، له همدې امله د مناسبو سیمو **لپاره** هدفمند سیاستونه د تولید د ودې، د صادراتو د پیاوړتیا،د هېواد د اقتصادي پایدارۍ او دوامدار پرمختګ لپاره اړین بلل کېږي( Habibzadeh et al., 2024 ).

په هرات کې د زعفرانو کښت له اقتصادي پلوه ډېر ګټور تمام شوی، خو کروندګر لاهم له ګڼو ننګونو سره مخ دي. د کرنیزو آفتونو او ناروغیو پر وړاندې د درملو ناسم ویش او کم لاسرسی **ددوی** له مهمو ستونزو څخه ګڼل کیږي. دغه راز په ډېری سیمو کې ترویجي خدمات ډېر اغېزناک نه دي، له همدې امله ټینګار کېږي چې د کرنې اړوند اداري باید د زعفرانو د کرنې لپاره منظم او اغېزناک ترویجي پروګرامونه پلي کړي، تر څو د روزنې، عملي نندارو او ورکشاپونو له لارې د بزګرانو تخنیکي پوهه لوړه شي (Nawab et al., 2022).

د هرات ولایت نیمه وچ اقلیم د زعفرانو د تولید لپاره مناسب شرایط برابروي او دا ولایت د هېواد د زعفرانو د تولید اصلي محور ګڼل کېږي، سره له دې چې په نورو ولایتونو کې هم د دې فصل د پراختیا امکان شته. شته شواهد ښیي چې افغانستان د زعفرانو د تولید د زیاتوالي د پام وړ ظرفیت لري. د زعفرانو کرنه د اقتصادي ودې، د کارموندنې او د بېوزلۍ د کمښت لپاره یو اغېزمن بدیل کرنیز فعالیت بلل کېږي (سالاري او همکاران، ۱۴۰۰).

سره له دې چې د زعفرانو عمده تولید په هرات ولایت کې متمرکز دی، خو وروستۍ څېړنې ښیي چې د زعفرانو کرکیله په تدریجي ډول له هرات ولایت څخه نورو ولایتونو لکه بلخ، بامیان، **دایکندي**، فاریاب او ځینو شمالي سیمو ته هم پراخه شوې ده. د تولیدي ساحو پراختیا، د کرنیزو ځمکو زیاتوالی او د صادراتو د حجم لوړوالی ښیي چې زعفران د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د لوړ ارزښت لرونکي اقتصادي محصول په توګه راڅرګند شوی دی. څېړنه څرګندوي چې د زعفرانو د تولید جغرافیایي پراختیا نه یوازې د بزګرانو د عایداتو په لوړولو کې مرسته کړې، بلکې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا، د صادراتو د زیاتوالي او د کوکنارو د بدیل فصل په توګه یې هم مهم رول لوبولی دی (Alizadah et al., 2026).

**جدول۱:** د افغانستان د زعفرانو عمده تولیدوونکي **ولایتونه**، د کرکیلې کچه، تولید او حاصل ( ۱۳۹۸ هـ ش )

| ولایت | کرل شوې ساحه (هکتار) | تولید (کیلوګرام) | حاصل(کیلوګرام/ هکتار) |
|---|---|---|---|
| هرات | 7000.3 | 18,200.8 | 2.6 |
| بلخ | 99.5 | 258.7 | 2.6 |
| فاریاب | 46.9 | 121.9 | 2.6 |
| کندهار | 44.2 | 117.3 | 2.7 |
| ارزګان | 39.6 | 103.0 | 2.6 |
| فراه | 34.9 | 90.7 | 2.6 |
| دایکندي | 31.5 | 81.9 | 2.6 |
| غور | 24.5 | 63.7 | 2.6 |
| سرپل | 21.1 | 54.7 | 2.6 |
| ټول افغانستان | 7,558.0 | 19,650.0 | 2.6 |

سرچینه: د افغانستان احصائیې ملی اداره

د خوست ولایت زعفرانو د تولید او پراختیا لپاره د اقلیمي او خاورینې شرایطو له مخې د دغه ولایت ځینې سیمې د زعفرانو د کرکیلې لپاره لوړ سمون والی لري. د ځمکو د سمون والي ارزونې پایلې **څرګندوي** چې د خوست په ګڼو سیمو کې زعفران د دوديزو کرنیزو محصولاتو

لپاره د یوه ارزښتناک بدیل په توګه معرفي کېدای شي. څېړنه ټینګار کوي چې د مناسبو تخنیکي چوپړتیاوو، د کرنیزو تګلارو او پانګونې په برابرېدو سره د زعفرانو تولید په خوست ولایت کې پراخېدی شي او د بزګرانو د عاید په لوړولو، د کرنیزې تنوع په زیاتوالي او د سیمه ییز اقتصادي پرمختګ په پیاوړتیا کې مهم رول لوبولای شي(Wali et al., 2016).

**د زعفرانو سورت او بسته بندي**

د افغانستان د زعفران د پانګونې او معیاري تولید ښه ظرفیت لري، خو موندنې ښیي چې افغان زعفران د نړیوالو معیارونو سره سم بسته‌بندي شوي نه دي؛ چې د پانګونې لپاره ښه فرصت رامنځته کوي. په ځانګړي ډول د زعفرانو د معیاري بسته‌بندۍ د واحدونو د جوړولو په برخه کې دغه فرصتونه شته. د بسته‌بندۍ غوره لوښي هغه دي چې هوا ورته نه ننوځي او له رڼا څخه خوندي وي لکه فلزي ټيني ډبې او تیاره ښیښې. ځینې پېرېدونکي شفافه ښیښه غوره ګڼي خو په دې حالت کې زعفران باید تر پلور پورې په تیاره ځای کې وساتل شي ( Raj Pandey and Raj Pandey, 2017 ). ډېری موندنې ښیي چې پلاستیکي کڅوړې او کلک پلاستیکي لوښي د زعفرانو لپاره مناسب نه دي، ځکه چې خوشبويي يې ضایع کېږي او کیفیت کمېږي. لیبل باید د محصول منځپانګه، خالص وزن، د واردوونکي معلومات (نوم، پته، شمیره) او د لاټ یا کوډ شمېره ولري؛ تر څو د سرچينې پېژندنه ممکنه کړي (Raj Pandey and Raj Pandey, 2017 ).

برانډ جوړونه، معیاري بسته‌بندي او برېښنايي سوداګري د زعفرانو د ارزښت ډېرولو مهم عوامل دي. پایلې ښيي چې دغه درې واړه عناصر له یو بل سره نږدې اړیکه لري او په ګډه د محصول **اقتصادي** ارزښت زیاتوي. همدارنګه موندنې څرګندوي چې د دغو عواملو اغېزې په کورني بازار کې د نړیوال بازار په پرتله لوړې دي، ځکه د نړیوال بازار د سختې سیالۍ او لوړو معیارونو له امله د برانډ جوړونې او بسته‌بندۍ اغېزې نسبتاً محدودې دي، خو په کورني بازار کې د مصرفوونکو د باور او د محصول د پېژندنې د زیاتوالي له امله د دغو عواملو اغېزمنتیا لوړه ده، چې دا د زعفرانو د بازارموندنې او ارزښت زنځیر پیاوړتیا لپاره مهمه زمینه برابروي (Mahmoud and Kazem., 2012).

پایلې څرګندوي چې بسته بندي د زعفرانو د صادراتو په بریالیتوب کې له دوديز محافظتي رول څخه لوړ اهمیت لري او د بازارموندنې د یوه ستراتیژیک ابزار په توګه عمل کوي. بېلابېلې څېړنې ښيي چې د بسته‌بندۍ لیبل، د کارېدونکو موادو ډول، رنګ او ډیزاین د مصرفوونکو د ادراک او د پېرلو د پرېکړې پر بهیر مستقیم اغېز لري. په ځانګړي ډول رنګ او ډیزاین د صادراتو له کچې سره قوي اړیکه لري، چې دا د بصري **عناصرو** د اهمیت څرګندونه کوي( Gilaninia et al., 2013).

سربېره پر دې د بسته‌بندۍ د موادو کیفیت او جوړښت نه یوازې د محصول د ساتنې او لېږد په اسانتیا کې رول لري، بلکې د چاپېریالي معیارونو او پایداري بازارموندنې له اصولو سره هم تړاو لري. له همدې امله بسته‌بندي د «خاموش پلورونکي» په توګه د برانډ پېژندنې او د بازار د نفوذ په پیاوړتیا کې مهمه وسیله بلل کېږي. په ټولیز ډول ادبیات ټینګار کوي چې د زعفرانو د صادراتو ستراتیژۍ باید د هدف بازارونو کلتوري ځانګړنو، د مصرفوونکو ذوقونو او نړیوالو معیارونو پر بنسټ د بسته‌بندۍ پر نوښت، کیفیت او تنوع تمرکز وکړي
(Gilaninia et al., 2013 )

مدیران او مسلکي کسان په دې باور دي چې مناسب رنګ او جذاب ډیزاین د مشتریانو د توجه جلبولو او د محصول ارزښت لوړولو لپاره مهم دي. سربېره پر دې د محصول لیبل چې ټول اړین معلومات ولري، د زعفران په نړیوال بازار کې د پېژندنې او باور زیاتوالي لپاره ضروري ګڼل شوی دی. له دې امله سپارښتنه کېږي چې د بسته بندۍ ډیزاین او لیبل جوړونه د ګرافیک متخصصینو لخوا د مختلفو فرهنګونو او ذائقو په پام کې نیولو سره ترسره شي(Kashani and Daryaei, 2014).

په افغانستان کې د زعفرانو د سورت، درجه بندۍ او بسته بندۍ بهیر لا هم په بشپړه توګه معیاري شوی نه دی. د موجودو مطالعاتو او د کرنې وزارت د راپورونو له مخې د زعفرانو د راټولولو، پاکولو او درجه بندۍ ډېره برخه لا هم په دوديز ډول ترسره کېږي. په ځانګړي ډول کوچني بزګران او سوداګر د معیاري پروسس، لابراتواري ازموینو او نړیوالو تصدیقونو محدود لاسرسی لري. که څه هم په هرات ولایت کې یو شمېر خصوصي شرکتونو د ISO 3632 نړیوال معیار پر بنسټ د زعفرانو د درجه بندۍ او بسته بندۍ اسانتیاوې رامنځته کړې دي، خو د هېواد په ډېری نورو ولایتونو کې د سورت او بسته بندۍ پرمختللي مرکزونه محدود دي. موندنې ښيي چې د افغان زعفرانو عمده ستونزې د معیاري بسته بندۍ کمښت، د کیفیت د یو شان والي نشتوالی، د نړیوالو تصدیقونو محدودیت، د مناسبې ساتنې او زېرمه کولو د اسانتیاوو

کمښت او د بازارموندنې نیمګړتیاوې دي. له همدې امله د زعفرانو یوه برخه لا هم په غیر معیاري یا عمده بڼه صادرېږي چې د محصول د ارزښت د کمېدو سبب ګرځي. څېړنې ټینګار کوي چې د **سورت**، درجه بندۍ او بسته بندۍ د عصري مرکزونو جوړول کولای شي د افغان زعفرانو کیفیت، نړیواله سیالي او صادراتي ارزښت نور هم لوړ کړي (MAIL, 2020; FAO, 2021).

**د زعفرانو پروسس**

پروسس د زعفرانو د زنځیري ارزښت یوه مهمه برخه ده. موندنې ښیي چې د افغانستان زعفرانو د پروسس په برخه کې د پروسس او ارزونې معیاري **لابراتوارونو** نشتون عمده ستونزې دي، دا موضوع ځکه ډېره مهمه ده چې زعفران یو نازک او حساس نبات دی او د دغه محصول مهمې ځانګړتیاوې لکه رنګ، خوند او خوشبويي یوازې د روزل شوو تخنیکرانو له لارې په لابراتوارونو کې په علمي ډول اندازه کېدای شي (MRRD/NABPD/UNDP, 2015; Raj Pandey and Raj Pandey, 2017).
د زعفرانو پروسس یوازې پوډري محصول تولید نه دی، بلکې د نوښتونو له لارې د درملیزو بدیلو بڼو لکه ګولیو، کپسولونو، شربتونو او سپرې رامنځته کول د محصول اقتصادي ارزښت زیاتوي. دغه پرمختګ د ارزښت زنځیر د پروسس په مرحله کې د پام وړ علاوه شوی ارزښت رامنځته کوي، بازارموندنې ته نوې لارې پرانیزي او د صادراتو وړتیا لوړوي(Rafati et al., 2023).
وروستۍ څېړنې ښیي چې د زعفرانو د پروسس جانبي محصولات لکه ګلپڼې او ستونې د لوړ ارزښت لرونکو موادو د منابعو په توګه ګټور تماميږي، چې دا د محصول د ارزښتعلاوه کېدو نوې لارې پرانیزي او د زعفرانو د پروسس برخه کې د اقتصادي پرمختګ امکانات زیاتوي (Hosseini and Ghavam, 2025).

**د زعفرانو بازار موندنه او توزیع**

په زعفرانو کې د بازارموندنې موضوع له اساسي او مهمو ننګونو څخه ګڼل کېږي. د محصول د انتقال پړاو ځانګړې اهمیت لري او باید منظم او معیاري ترسره شي، په دغه پړاو کې هر ډول بې‌احتیاطي کولای شي د زعفرانو پر خوند، بوی او رنګ منفي اغېزې ولري. زعفران یو حساس نبات دی چې ځانګړنې یې په لنډ وخت کې له منځه ځي، ځکه ډېر ژر وچېږي؛ له همدې امله د بازارموندنې ټولې مرحلې باید په بشپړ دقت سره ترسره شي. دغه راز د محصول ترویج د محصول د بازار موندنې برخې یو مهم اصل دی ترڅو چې عام وګړي محصول ونه پېژني، د محصول ځانګړنې درک نه کړي او د محصول له ګټو خبر نه شي لیدلوری یې د محصول د اخیستلو لپاره نه بدلیږي. د زعفرانو منظم ترویج د محصول پېژندنه زیاتوي، د مصرفوونکو پرېکړه اسانه وي او د تولید او صادراتو د زیاتوالي سبب ګرځي. (Moradi and Turhan, 2017).

افغان زعفران د خپل لوړ کیفیت له امله د صادراتو پراخ فرصتونه لري او په اروپا، امریکا، متحده عربي اماراتو او نورو بازارونو کې ښه منل شوي دي. که څه هم د زعفرانو د تولید په برخه کې ایران تر ټولو لوی تولیدونکی هیواد دی؛ خو د افغانستان زعفران د کیفیت په پرتله غوره بلل کېږي. د افغانستان د زعفرانو کیفیت او بازار ته په کتو د دغه محصول صنعت لا هم له محدودو تولیدي او پروسسي ظرفیتونو سره مخ دی. څېړنې ښیي چې د نړیوالو معیارونو سره سم بسته‌بندي، د بزګرانو د کرنیز ظرفیت پیاوړتیا او د پروسس اسانتیاوو پراختیا کولی شي د دې صنعت د لا ودې لپاره مهم رول ولوبوي. همدارنګه د بازار محدودې سیالۍ او د څو محدودو شرکتونو تسلط د بیو لوړېدو، د نوښت کمښت او د بازار د رقابتي ځواک د کمزورتیا لامل شوي؛ چې له امله یې بهرني تولیدوونکي د ټیټو بیو له لارې بازار ته د ننوتلو زمینه مومي(Hikmat et al., 2018).

افغانستان په ۲۰۱۶ م کال کې د نړۍ د **زعفرانو** د صادرونکو هېوادونو په لېست کې شپږم مقام خپل کړی و، په داسې حال کې چې هسپانیه او پرتګال د نړیوالو بازارونو مخکښ صادرونکي ګڼل کېدل(Shwoban et al., 2020).

د ۲۰۱۴ تر ۲۰۱۷ م کلونو پورې، هند د افغانستان د زعفرانو تر ټولو مهم صادراتي بازار و او نږدې ۶۰ سلنه صادرات یې جذب کړي دي. سربېره پر دې د صادراتو د ثبات د ارزونې پایلې ښیي چې متحده عربي امارات د افغانستان د زعفرانو لپاره تر ټولو باثباته بازار پاتې شوی، په داسې حال کې چې هند نسبي ثبات درلود (Noori and Maulavizada, 2018).

**جدول ۲:** د افغانستان د زعفرانو صادرات(د مقدار او ارزښت له مخې لس مخکښ هیوادونه ۱۴۰۳ هـ ش )

| شمېره | هیواد | مقدار (کیلو ګرام) | ارزښت ( ډالر) |
|---|---|---|---|
| 1 | هند | 44,258 | 27,811,647 |
| 2 | هسپانیه | 2,704 | 3,744,575 |
| 3 | سعودي عربستان | 2,260 | 3,354,945 |
| 4 | متحده ایالات | 973 | 1,360,594 |
| 5 | بریتانیا | 79 | 700,303 |
| 6 | یوګانډا | 501 | 546,621 |
| 7 | جرمني | 1,110 | 456,004 |
| 8 | فرانسه | 409 | 280,759 |
| 9 | بلجیم | 312 | 202,903 |
| 10 | استرالیا | 102 | 184,784 |
| | ټول | ۵۸٬۶۷۵ | 39,434,341 |

سرچینه: د افغانستان احصاییې ملي اداره

په افغانستان کې د زعفرانو د بازارموندنې پراختیا لپاره د مناسب کښت او پروسس په برخه کې د بزګرانو روزنه، بزګرانو او د زعفرانو د شرکتونو لپاره د لنډمهاله او اوږدمهاله اسانتیاوو برابرول او د نړیوالو نندارتونونو جوړول اړین دي؛ ترڅو د افغانستان زعفران نړیوالو بازارونو کې ځای پیدا کړي (Ali et al., 2024).

د ۲۰۲۱ م کال له سیاسي بدلونونو وروسته د افغانستان د زعفرانو د صادراتو اقتصادي ارزښت د پام وړ کموالی ښیي. دغو بدلونونو د نړیوالو **بازارونو** سره د هېواد پر سوداګریزو اړیکو منفي اغېز کړی دی. د نړیوالې سیالۍ د زیاتېدو په شرایطو کې دا اړینه ده چې افغانستان د زعفرانو د کیفیت د لوړولو او د تولید د پراخولو لپاره اغېزمنې تګلارې غوره کړي؛ ترڅو د نړیوال بازار په کچه خپل رقابتي موقعیت وساتي.

سربېره پر دې، د جغرافیایي نښې (GI) سیستم کولی شي د افغان زعفرانو د پېژندګلوۍ او ارزښت د زیاتوالي لپاره مهم رول په ځانګړي ډول اروپایي بازارونو کې ولوبوي. که څه هم د زعفرانو د تولید ظرفیت شته؛ خو د بازارموندنې په برخه کې د منظم او مدون سیاست نشتوالی د زعفرانو د ارزښت‌ځنځیر یو له اصلي ځنډونو څخه ګڼل کېږي. له همدې امله سپارښتنه کېږي چې د زعفرانو راکړه ورکړه د تنظیم شوو بازارونو له لارې ترسره شي او یوازې قانوني ثبت شوي منځګړي د سوداګرۍ اجازه ولري، تر څو شفافیت، کیفیت کنټرول او د تولیدوونکو باور پیاوړی شي (Esar et al., 2024).

## د زعفرانو د کښت اقتصادي ګټې

د زعفرانو کرکېله د یوه ستراتیژیک محصول په توګه توانېدلې ده چې د ایران، خلیل آباد، روستاق ولسوالۍ په کلیوالو سیمو کې د کلیوالو کورنیو د ژوند کیفیت په څرګنده توګه لوړ کړي او د پانګې سپما توان یې لوړ کړي (Alavizadeh et al., 2018 ).

د افغانستان د زعفرانو د ارزښت ځنځیر تحلیل څرګندوي چې د هر کیلوګرام زعفرانو د تولیدوونکي او وروستي صادراتي ارزښت ترمنځ د بیې توپیر شاوخوا ۲۷ زره افغانۍ دی. سره له دې، بزګرانو ته د صادراتي ارزښت له مجموعې څخه شاوخوا ۷۶ سلنه ونډه رسېږي، چې دا د نورو کرنیزو محصولاتو په پرتله د زعفرانو اقتصادي ارزښت روښانه کوي (Noori and Maulavizada, 2018).

په هرات ولایت کې ترسره شوې مطالعه ښیي چې د زعفرانو د حاصل اوسط ۱.۹۱ کیلوګرامه په هر هکتار، د تولید شوي زعفرانو اوسط فی کیلو ګرام بیه شاوخوا ۶۹٬۸۶۰ افغانۍ ده (Shwoban et al., 2020).

په افغانستان کې د زعفرانو د کرکېلې ساحه او تولید په پرله‌پسې توګه د زیاتېدو په حال کې دي او دا نبات د بزګرانو، په ځانګړي ډول د ټیټ عاید لرونکو کورنیو لپاره د عاید مهمه سرچینه ګرځېدلې ده. زعفران د نورو کرنیزو محصولاتو په پرتله لږو اوبو ته اړتیا لري، په ساده کرنیزو وسایلو کرل کېږي او د کارګر ځواک کم استعمال غواړي؛ چې دا یې په وچه ترلې هېواد کې یو مناسب بدیل نبات ګرځولی دی.

سربېره پر دې زعفران د ودې لنډه دوره، لوړ اقتصادي عاید، د ناروغیو پر وړاندې نسبي مقاومت او د ښځو د پراخ ګډون وړتیا لري. د اوږدې مودې د ساتنې امکان او اسانه لېږد یې نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي زمینه برابره کړې؛ له همدې امله افغانستان په وروستیو کلونو کې د زعفرانو د تولید او صادراتو له پلوه د پام وړ پرمختګ تجربه کړی دی (Esar et al., 2024). په افغانستان کې د زعفرانو د کښت لپاره مناسب چاپېریالي شرایط، لوړ اقتصادي ارزښت او د ارزانه کاري ځواک شتون د دې محصول د تولید لپاره پیاوړې زمینه برابره کړې ده. د افغان زعفرانو لوړ کیفیت د نړیوال بازار پر کچه د هېواد رقابتي برلاسی تضمین کړی او په وروستیو کلونو کې یې نړیوال اعتبار زیات شوی دی (سالاري او همکاران، ۱۴۰۰).

**د زعفرانو زنځیري ارزښت ننګونې**

د مطالعې پایلې څرګندوي چې په افغانستان (هرات ) کې بزګران د زعفرانو کرلو ته لیوالتیا لري؛ خو ګڼ شمیر بنسټیزو خنډونو د دې برخې پرمختګ محدود کړی. د زعفرانو د تخم لوړ لګښت او محدود لاسرسی د ددغه محصول تر ټولو جدي ستونزه بلل شوې، په داسې حال کې چې د هېواد دننه د منظم بازار نشتوالی د بزګرانو او سوداګرو لپاره د عاید فرصتونه راکم کړي دي. څېړنه ښیي چې نړیوالو بازارونو ته لاسرسی د کورني بازار په پرتله د لوړې ګټې زمینه برابروي، خو امنیتي او کلتوري محدودیتونه؛ په ځانګړي ډول د ښځینه بزګرانو لپاره د زعفرانو په تولید او بازار موندنه کې خنډ ګرځېدلي دي.

پایلې دا هم څرګندوي چې د کرنیزو **ترویجي** خدمتونو کمزوری سیستم، د مسلکي کارکوونکو کمښت، بودیجوي محدودیتونه او د ترانسپورټ نشتوالی د زعفرانو د پراختیا پر وړاندې مهمې ستونزې دي. سره له دې، د نادولتي بنسټونو لکه DACAAR ونډه د زعفرانو د ترویجي خدمتونو په ښه کېدو کې اغېزناکه ثابته شوې (Nabizadah, 2010; Aksoy and Arsalan, 2019).
د افغانستان زعفرانو د تولید په برخه کې د بزګرانو مالي محدودیت یوه عمده ستونزه ګڼل کیږي. دغه راز د صنعتي معیارونو نشتوالی د دغه محصول د تولید په برخه کې یوه بله جدي ستونزه ده. یو شمیر بزګران د محلي زیرمتونونو او بسته بندي ټیټ ظرفیت د زعفران محصول د تولید لپاره مهم خنډ بولي. د عامه سکتورنو د ملاتړ کموالی او د افغاني محصولاتو د بازارموندنې خنډونه نورې ستونزې دي چې د یاد محصول د تولید په برخه کې موجودې دي(Nawab et al., 2022).

زعفران په افغانستان ځانګړي ډول په هرات ولایت کې د لوړ ارزښت لرونکی کرنیز حاصل بلل کېږي چې د صادراتو ښه ظرفیت لري. شواهد ښیي چې د في واحد ځمکې پر بنسټ یې عاید او د کارموندنې ظرفیت د کوکنارو په پرتله لوړ دی؛ خو د پانګونې لوړ لګښتونه، د بازار محدود ملاتړ او د تولید ځانګړي شرایطو؛ ددغه محصول کښت د کوچنیو بزګرانو لپاره ستونزمن کړی دی. د زعفرانو د ارزښت زنځیر کې د بازار منځګړیتوب کمزوری دی. اتحادیې تر ډېره د تولید تر مرحلې محدودې دي او د تولید وروسته پړاوونه لکه پروسس، بسته‌بندي او نړیوال بازارموندنه کافي ملاتړ نه لري. که څه هم ښځې د زعفرانو په پاکولو او پروسس کې مهم رول لري؛ خو دا ونډه تر ډېره ټیټ مزد او لنډمهاله ده او د هغوی اقتصادي وضعیت په **بنسټیز** ډول نه بدلوي. په ټولیز ډول د زعفرانو د اوسني بازار جوړښت د پراخې اقتصادي او ټولنیزې پراختیا مخه نیسي (Minoia and Pain, 2016 ).

**مناقشه**

د زعفرانو د تولید په برخه کې د بېلابېلو مطالعاتو پایلې پر دې ټینګار کوي چې بزګران په افغانستان کې د هغو ترویجي پالیسیو منلو ته ډېره لېوالتیا لري چې د تولیدي عواملو، په ځانګړي ډول د ماشینرۍ د خدمتونو او مالي اسانتیاوو ملاتړ په کې شامل وي. Azimy et al., 2020 څرګندوي چې د کوچنیو بزګرانو اقتصادي محدودیتونه د دې لامل شوي چې د ماشینرۍ خدمتونه د پالیسۍ د منلو مهم فکتور وګرځي، په داسې حال کې چې (Wyeth and Gohar., 2006 ) د زعفرانو د کمې اوبو اړتیا او د لږو تولیدي توکو اړتیا د دې نبات د پراختیا اصلي دلیل بولي. دا پایلې یو بل پیاوړې کوي او ښیي چې که څه هم زعفران د سرچینو له پلوه سپما کوونکی محصول دی، خو د پانګې بېرته ستنېدل او تخنیکي پوهه هغه فکتورونه دي چې د تولید دوامداره پراختیا ته وخت او ملاتړ غواړي.

په ورته وخت کې ډېرى څېړنې پر دې متفقې دي چې هرات ولايت، چې د افغانستان د زعفرانو د توليد اصلي محور ګڼل کېږي، د خپل نيمه وچ اقليم، مناسبو چاپېريالي شرايطو او د توليدي تجربې له امله ستراتيژيک اقتصادي ارزښت

لري (Habibzadeh et al., 2024؛ سالاري او همکاران، ۱۴۰۰). سره له دې (Nawab et al., 2022) ښيي چې د کرنيزو آفتونو مديريت، کمزوري ترويجي خدمات او د تخنيکي روزنو نشتون لا هم د بزګرانو پر وړاندې جدي ننګونې دي. دا تفاوت څرګندوي چې طبيعي مناسب شرايط په يوازې ځان د لوړ توليد تضمين نه کوي؛ بلکې انساني او بنسټيز ملاتړ ورته حياتي دی.

د سورت او بسته‌بندۍ په برخه کې څېړنې تر ډېره پر دې همغږې دي چې افغان زعفران د کيفيت له پلوه نړيوال ظرفيت لري؛ خو د نړيوالو معيارونو سره سم بسته بندي يې لا هم نيمګړې ده. د بسته‌بندۍ تخنيکي ځانګړتياوې لکه د هوا او رڼا مخنيوی د کيفيت د ساتنې لپاره حياتي ارزښت لري (Raj Pandey and Raj Pandey, 2017). په داسې حال کې چې(Mahmoud and Kazem., 2012)او ( Kashani and Daryaei, 2014) د رنګ، ډيزاين، ليبل او برانډ جوړونې پر رول تمرکز کوي. دغه مطالعات سره يو ځای دا څرګندوي چې بسته‌بندي بايد هم د محصول فزيکي ساتنه تضمين کړي او هم د بازارموندنې ستراتيژيکه وسيله وګرځي.

د پروسس په برخه کې زياتره ادبيات پر دې متفق دي چې د معياري لابراتوارونو نشتون د افغان زعفرانو د ارزښت لوړونې اساسي خنډ دی (MRRD/NABPD/UNDP, 2015; Raj Pandey and Raj Pandey, 2017). خو وروستۍ څېړنې لکه (Rafati et al., 2023) او (Hosseini and Ghavam, 2025) له دوديز پوډري توليد څخه د درمليزو او جانبي محصولاتو پر لور د تګ اړتيا مطرح کوي. دا بدلون څرګندوي چې د زعفرانو د ارزښت ځنځير په پروسس مرحله کې د نوښت کچه د اقتصادي پرمختګ لپاره حياتي ده.

د بازارموندنې په برخه کې مطالعات ښيي چې افغان زعفران د لوړ کيفيت له امله په نړيوالو بازارونو کې ښه منل شوی دی؛ خو ( Hikmat et al., 2018) او (Esar et al., 2024) ټينګار کوي چې د محدودو شرکتونو تسلط، کمزوري رقابت او د منظم بازار نشتون د دې صنعت د پراختيا مخه نيولې ده. له بلې خوا (Noori and Maulavizada, 2018) ښيي چې هند او متحده عربي امارات د صادراتو لپاره باثباته بازارونه دي، خو د ۲۰۲۱ م کال وروسته سياسي بدلونونو دا ثبات له خطر سره مخ کړی دی. دا توپيرونه ښيي چې د بازارموندنې ستونزې يوازې اقتصادي نه دي، بلکې سياسي او نهادي ابعاد هم لري.

په ټوليز ډول مطالعات پر دې موافق دي چې زعفران په افغانستان؛ په ځانګړي ډول هرات ولايت کې د لوړې اقتصادي ګټې، د کارموندنې د پراختيا او د بديل معيشتي فعاليت په توګه لوړ ظرفيت لري (Minoia and Pain, 2016; Esar et al., 2024). خو د بازار منځګړيتوب کمزورتيا، د مالي ملاتړ نشتوالی او د ارزښت ځنځير نيمګړې همغږي دا امکان محدود کړی چې زعفران د پراخ ټولنيز-اقتصادي بدلون وسيله وګرځي. د موجودو مطالعاتو ترمنځ مشابهتونه او تفاوتونه دا روښانه کوي چې د زعفرانو پايدار پرمختګ د توليد، پروسس، بسته‌بندۍ او بازارموندنې د ګډې او همغږې تګلارې پرته ممکن نه دی.

## پايلې

د موجودو ادبياتو روايتي مرور ښيي چې زعفران په افغانستان کې؛ په ځانګړي ډول هرات ولايت کې د لوړ اقتصادي ارزښت، د کمې اوبو اړتيا او د مناسب اقليمي شرايطو له امله د کرنيز سکتور يو ستراتيژيک محصول ګڼل کېږي. زياتره مطالعات پر دې ټينګار کوي چې زعفران د کوچنيو بزګرانو د عايد لوړولو، د کارموندنې فرصتونو پراختيا او د ناقانونه اقتصادي فعاليتونو د بديل په توګه مهم ظرفيت لري. سره له دې د پانګې د ښېرته ستنېدو اوږده موده، د تخنيکي مهارتونو اړتيا او مالي محدوديتونه هغه ننګونې دي چې د دې نبات چټکه پراختيا يې محدوده کړې ده.

پايلې دا هم څرګندوي چې د زعفرانو توليدي پراختيا يوازې پر طبيعي شرايطو ولاړه نه ده، بلکې د مؤثرو ترويجي پاليسيو، ماشينرۍ ته د لاسرسي، اوږدمهاله مالي اسانتياوو او ترويجي ملاتړ شتون ورته حياتي ارزښت لري. د عامه سکتور او نړيوالو غير دولتي بنسټونو ملاتړ د بزګرانو د باور لوړولو او د پاليسۍ د تطبيق په بهير کې مهم رول لوبولی دی، چې دا موضوع د نهادي او انساني پانګونې اړتيا تاييدوي.

په ارزښت ځنځیر کې د پروسس او معیاري بسته‌بندۍ برخې د افغان زعفرانو د نړیوال رقابت لپاره اساسي ارزښت لري. که څه هم د افغانستان زعفران د کیفیت له پلوه نړیوال ظرفیت لري، خو د برانډ جوړونې، تصدیق شوو لابراتوارونو او معیاري بسته‌بندۍ نشتون د محصول د ارزښت ډېرونې کچه محدوده کړې ده. څېړنې ښیي چې نوښتگر پروسس او د نړیوالو معیارونو تطبیق کولی شي د صادراتو ورتیا په څرگنده توگه لوړه کړي.

په ټولیز ډول دا څېړنه دې پایلې ته رسېږي چې زعفران د افغانستان لپاره یو لوړ ظرفیت لرونکی، خو د لوړ مدیریت غوښتونکی کرنیز محصول دی. د دې محصول دوامداره پرمختګ یوازې هغه مهال شونی دی چې د تولید، پروسس، بسته‌بندۍ او بازارموندنې ټول پړاوونه د یوې همغږې او اوږدمهالې تگلارې تر چتر لاندې تنظیم شي؛ ترڅو د زعفرانو اقتصادي او ټولنیزې گټې په بشپړه توگه تحقق ومومي.

## وړاندیزونه

د پورته موندنو پر بنسټ لاندې وړاندیزونه کیږي:

- بزگرانو ته دې مالي اسانتیاوو او تخنیکي روزنو برابرول، ترڅو د زعفرانو تولید پراخ شي.
- د زعفرانو د پروسس، معیاري بسته‌بندۍ او کیفیت کنټرول برخو پیاوړتیا.
- د افغان زعفرانو د نړیوالې بازارموندنې او برانډ جوړونې لپاره د اغېزمنو هڅو ترسره کول.

## اخځلیکونه


Afghanistan Statistical Yearbook (ASYB) (2021). *Agricultural and trade statistics: Saffron production and exports in Afghanistan* (Statistical Report). Central Statistics Organization, Afghanistan.

Ajaz, A. A. (2012). Knowledge of saffron growers on saffron production technology in Kashmir Province. *Journal of Agricultural Extension and Rural Development, 6*(1), 1–4. https://doi.org/10.5897/JAERD10.049

Aksoy, A., & Arsalan, A. A. (2019). Determining the socio-economic importance of saffron as an alternative product to opium production in Afghanistan. *Empirical Economic Review, 2*(2), 1–16. https://doi.org/10.29145/eer/22/020101

Alavizadeh, S. M., Zendehdel, A., & Izad, A. (2018). An analysis of the effects of saffron cultivation on the quality of life of rural households (case study: Rostaq Dehestan in Khalilabad County). *Journal of Research and Rural Planning, 7*(2), 79-95. http://dx.doi.org/10.22067/jrrp.v5i4.66085

Ali, O. V. A., Sadegh Allahyari, M., & Marzban, S. (2024). The development strategies for the saffron supply chain in Quorian County, Herat province, Afghanistan. *Saffron Agronomy & Technology, 12*(3), 350-367. 10.22048/jsat.2024.437708.1521

Alizadah, M. H., Hosainy, S. A. H., & Ghafori, S. (2026). Production and export performance of Afghan saffron over the past decade. *Journal of Natural Science Review*, *4*(1), 114–126. https://doi.org/10.62810/jnsr.v4i1.387

Azimy, M. W., Khan, G. D., Yoshida, Y., & Kawata, K. (2020). Measuring the impacts of saffron production promotion measures on farmers' policy acceptance probability: a randomized conjoint field experiment in Herat province, Afghanistan. *Sustainability*, *12*(10), 4026. https://doi.org/10.3390/su12104026

Esar, B. A., Singh, G., & Younisi, H. (2024). Afghanistan saffron and potential for the economy: An overview of international trade and domestic well being. *Agricultural Reviews, 45*(2), 297–303. https://doi.org/10.18805/ag.RF-290

Faiz, A., & Sultani, M. S. (2016). *Knowledge level of saffron growers in Ghorian District of Herat, Afghanistan*. *International Journal of Bio-resource and Stress Management, 6*(4), 509–512. https://doi.org/10.5958/0976-4038.2015.00075.5

FAO (2021). Saffron value chain development and market opportunities in Afghanistan. Rome, Italy.

Gilaninia, S., Shabgoo Monsef, S. M., & Soleymani, F. (2013). Quality packaging and saffron export. *Singaporean Journal of Business Economics and Management, 1*(10), 1–5. https://www.singaporeanjbem.com/index.php/SJBEM/article/view/93

Gohar, A., & Wyeth, P. (2006). *Saffron production and farmer perceptions in Pashtun Zarghun District of Herat* (RALF Report). Research in Alternative Livelihoods Fund — ICARDA / DFID. https://assets.publishing.service.gov.uk/media/57a08c4ce5274a27b20010ef/RALFSaffron_prodn_in_Herat-AG-PW-Nov06.pdf

Habibzadeh, P., Firoozzare, A., Dourandish, A., Tohidi, A., & Nikzad, M. (2024). Investigating the Comparative Advantage of Saffron Production and Export in Afghanistan. *Biological Forum – An International Journal, 16*(9), 104-116.

Hellin, J., & Meijer, M. (2006). *Guidelines for value chain analysis*. Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO). http://www.fao.org/3/bq787e/bq787e.pdf

Hernandez, J. E., Kacprzyk, J., Panetto, H., Fernandez, A., Liu, S., Ortiz, A., & De Angelis, M. (2017*). Challenges and solutions for enhancing agriculture value chain decision-making: A short review.* In H. Afsarmanesh, L. M. Camarinha-Matos, & R. Fornasiero (Eds.), *Collaboration in a Data-Rich World: PRO-VE 2017* (IFIP Advances in Information and Communication Technology, Vol. 506, pp. 761–774). https://doi.org/10.1007/978-3-319-65151-4_68

Hosseini, S. R., & Ghavam, M. (2025). Saffron petal waste as a source of natural antimicrobials: comparative analysis of extraction methods. *Discover Applied Sciences, 7*, Article 418. https://doi.org/10.1007/s42452-025-06883-9

Humphrey, J., & Navas-Alemán, L. (2010). *Value chains, donor interventions and poverty reduction: A review of donor practice* (IDS Research Report No. 63). Institute of Development Studies. https://doi.org/10.1111/j.2040-0217.2010.00063_2.x

Kashani, S. J., & Daryaei, N. (2014). *Analysis and investigation of the status of saffron packaging and its position in Iran exports from exporters and experts viewpoints (Case study: Torbatjam Township)*. https://www.researchgate.net/publication/270584888_Analysis_and_Investigation_of_the_Status_of_Saffron_Packaging_and_its_Position_in_Iran_Exports_from_Exporters_and_Experts_Viewpoints_Case_Study_Torbatjam_Township

Katawazy, A. S. (2013). *A comprehensive study of Afghan saffron* (Research, Planning and Policy Directorate Report). Afghanistan Investment Support Agency, Kabul, Afghanistan.

Menia, M., Iqbal, S., Zahida, R., Tahir, S., Kanth, R. H., Saad, A. A., & Hussain, A. (2018). *Production technology of saffron for enhancing productivity*. *Journal of Pharmacognosy and Phytochemistry, 7*(1), 1033–1039.

Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock (MAIL) (2020). Saffron production reaches to some 20 tons. Kabul, Afghanistan: MAIL.

Ministry of Rural Rehabilitation and Development (MRRD), National Area-Based Development Programme (NABDP), & United Nations Development Programme (UNDP). (2015). *NABDP Annual Progress Report 2015*. Kabul, Afghanistan: Government of Afghanistan & UNDP. https://www.undp.org/afghanistan/publications/nabdp-annual-progress-report-2015

Minoia, G., & Pain, A. (2016). *Saffron: The social relations of production*. Working Paper 48, Secure Livelihoods Research Consortium, London.

Moradi, M. M., & Turhan, Ş. (2017). The importance of saffron plant in Afghanistan's agriculture. *Journal of Biological and Environmental Sciences, 11*(33), 165–169.

Nabizadah, R. (2010). *Impacts of saffron projects and the effectiveness of agriculture extension services on transition from poppy to saffron in Pashtun Zarghun district of Afghanistan* (Master's thesis). Van Hall Larenstein University of Applied Sciences, Wageningen, The Netherlands.

National Institute of Statistics and Information (NISA) (2021). *Afghanistan statistical yearbook 2020–2021*. Government of Afghanistan.

National Institute of Statistics and Information (NISA) (2021). *Afghanistan statistical yearbook 2024–2025*. Government of Afghanistan.

Nawab, K., Iqbal, M., & Khalid, I. (2022). Assessment of Problems faced by Farmers regarding Saffron Production in Afghanistan. International Journal of Social Studies, 2(1), 01-07. https://doi.org/10.55627/ijss.02.1.0133

Noori, N., & Maulavizada, A. S. (2018). An Overview of Production and Export Trade Performance of Saffron in Afghanistan. *Environment and Ecology, 36*(3), 871- 875.

Pandey, P. R., & Pandey, I. R. (2017). Challenges and opportunities in value chain of spices in South Asia. SAARC Agriculture Centre. https://www.sac.org.bd/wp-content/uploads/2018/03/Challenges-and-Opportunities-of-Value-chian-of-Spices-in-South-Asia.pdf

Rafati, M., Enjili, L., & Karbasi, A. (2023). *Investigating the economic priorities of the medicinal value chain of saffron in Iran*. In The 11th ASAE International Conference on Sustainable and Resilient Asian Agriculture and Food Systems in the Global World**.** Ferdowsi University of Mashhad.

Salari, T., & Hassanzoy, N. (2022). *An economic analysis of Afghanistan's saffron production and exports.* Afghanistan Doctors Association (ADA),8 https://www.researchgate.net/publication/360539490_ph_afghanstan_k_d_zfranw_d_twlyd_aw_sadratw_aqtsady_thlyl_An_Economic_Analysis_of_Afghanistan%27s_Saffron_Production_and_Exports

Shwoban, SH., Dourandish, A., and Ghorbani, M. 2020. Investigating Afghan farmers' willingness to continue cultivation of Saffron (Case study: Herat Province). Saffron Agronomy & Technology, 8(2): 227-293. https://doi.org/10.22048/jsat.2019.177614.1340

Staritz, C. (2012). *Value chains for development? Potentials and limitations of global value chain approaches in donor interventions* (ÖFSE Working Paper No. 31). Austrian Foundation for Development Research (ÖFSE).

Wali, E., Datta, A., Shrestha, R. P., & Shrestha, S. (2016). *Development of a land suitability model for saffron (Crocus sativus L.) cultivation in Khost Province of Afghanistan using GIS and AHP techniques*. Archives of Agronomy and Soil Science, 62(7), 921–934. https://doi.org/10.1080/03650340.2015.1101519